# په افغانستان کی د ټاکنو وروستی معلومات

د زیاتو معلوماتو لپاره:
اندی ا م.ای.کمپبیل
د افغانستان د دفتر رییس
۰۷۹۸۱۳۷۰۲۳
acampbell@ndi.org

**د افغانستان د ولسی جرګی ټاکنی په ۱۸ سپتمبر ۲۰۱۰**

**تر ټاکنو ۳۱ ورځی وروسته :د اکتوبر ۱۹ نیټه ۲۰۱۰ کال**

ملی دیموکراتیک انستیتیوت په پام کی لری چی په افغانستان کی د ولسی جرګی د ټاکنو له بهیر څخه د څارنی او نظارت په موخه د څارنی او نظارت ماموریت د ټاکنو دورځی د مخه، د ټاکنو په بهیر کی او د ټاکنو په پای کی په لار واچوی. په دی ماموریت کی ۱۶۰ تنه نړیوال څیرونکی او افغان ناظرین د ټول هیواد په سطح ګمارل شوی دی. د زیاتو معلوماتو لپاره دا ویب پاڼی کتلای شی: AfghanistanElectionData.org و NDI.org.

## دټاکنو خپلواک کمیسیون به تر ۴۰۰۰ څخه زیات شکایتونه وڅیري

د ټاکنو خپلواک کمیسون د هغو شکایتونود څیړلو تر فشار لاندی دي، کوم چی مخکښی هم د شکایاتو د ولایتی دفترونو لخوا تقریبًا په پراخه توګه څیړل شوی وو. د این ډی آي د شکایاتو د څیړلو بهیر له مخی ، دا چی د شکایاتو ولایتی دفترونو څنګه شکایات وڅیړی او پریکړی پری وکړی په لوړه کچه له بیلا بیلو لارو څخه کار اخیستی. په عامه توګه د شکایاتود پریکړو خپرول د شکایاتو د کمیسون لخوا د روڼوالی په لور یومثبت ګام بلل کیږی. خو پریکړو ته په کره کتني سره ، د پام وړ د ټیکاو نشتوالي پدی بهیرکی راڅرګندیږی.

په ۲۰۰۹ کال کښی د شکایاتو کمیسون د ټولټاکنو په ټول بهیر کښی تر ۲۵۰۰ زیات شکایتونه تر لاسه کړی وو. سږکال د اکتوبر په ۱۳ مه د شکایاتو ولایتی دفترونو ۴۱۷۷ شکایات تر لاسه کړل چی ۲۲۸۸ یی د پام وړ و انګیرل شول کومو چی د ټاکنو پر پایلو اغیزه درلودای شوه.

د اکتوبر په شلمي نیټي دټاکنو د شکایاتو کمیسون په انټرنیټی پاڼی تقریباً ۳۲۰ پریکړی خپری شوی. چی ۲۶۰ یی دټاکنو شکایاتوولایاتي دفترونونو پریکړی د ۱۹ ولایتونو په اړوند وی. او پاتی پریکړی یی دټاکنود شکایاتو ملی کمیسون لخوا وشوی. په خپرو شویو پریکړو این ډی ای یو ځیرنه لرله چی د ټولو ولایاتو په کچه یی ځینی توپیرونه درلودل لکه: جوړښت(فارمټ)، د ادعاوو او څیړنو په اړه معلومات، د پریکړو پاییښت وروسته د ټاکنو د درغلیو څیړني.

### جوړښت(فارمت)

زیات شمیر خپري شوي پریکړی د څلورو ټوکونو جوړی شوی دی: ادعاوی، څیړني، پریکړی او تحلیلونه. ځینی یی ددی فارمت دټوکونو څخه اوښتی وو،زیات شمیر پریکړی یی په لاس لیکل شوی وی، لکه د خوست او پکتیا. او همدا رنګه د خوست ولایت د ۲۰ څخه اته پریکړي د کمزوره کیفیت ، سکن او نا سمولیکنو له امله نه لوستل کیدي.

او همدا رنګه د ټاکنو د همدی سیمو څخه د شکایتونو نوری بیلګی هم شته چی د ټاکنو ولایتی دفترونوبی ددی چی ګروپ بندی یی کړی جلا پریکړی پری کړي.د بیلګي په توګه، د ۲۱ څخه ۱۸ پریکړو یی د زابل دره چوپان ولسوالی څخه یو شان دعواوی د رای صندوقونو په ډکولو کی درلودلی ، او د ولایتی شکایاتو دفترجلا جلا پریکړی کړیدی. او په همدی ډول د لوګر ولایت ۱۲ پریکړی چی د یو مرکز اړوند کیدلی جلا جلا لست شوی وی.

### ورکړل شوی معلومات

یو تعداد د ټاکنو د شکایاتو ولایتی دفترونو د پکتیا په شمول د څیړنو، پریکړو او ادعاګانو په هکله د پام وړ معلومات ورکړل. خو ډیرو نومړو دفترونو ډیر لږ معلومات وړاندی کړل.

پاتی برخه دوهمه پاڼه))

## څرنګه چی دپایلو بهیرد مهال ویش وروسته پاتی شو، د ټاکنو پایلي وځنډیدی

په اول سر کی د ټاکنو کمیسون ویلي وو چی دوی به لمړنی پایلی په نهم د اکتوبر خپری کړی، خو وروسته یی ۱۷ داکتوبر ته وځنډولي. ۲۱ ورځی وروسته تر ټاکنو ـــ د ټاکنو خپلواک کمیسون د ۵۴۹۷ مرکزونو څخه ۳۱۳۱ مرکزونه په رایو کار وکړ اوپه منظم ډول یی ساتن ځای کی یی خوندی کړل. دا یواځی ۵۷٪ کی کار ترسره شوی، د ټاکنو کمیسون وایی چی پاتی برخه کار به یی چی ۲۳۰۰ مراکز جوړیږی د اتو ورځو په جریان کښی ترسره شی. د ټاکنو خپلواک کمیسون تر وروستی لحظي منتظر پاتی شو تر څو دوهمه ځنډونه اعلان کړی. ټاکل شوی وه چی خبری غونډه به په ۱۷ داکتوبر په ۲ بجو وشی، وروسته ۵ بجو ته په همدی ورځ وځنډول شوه، خو بیا هم په ۳:۳۰ بجو کښی نوموړی کمیسون دپایلو اعلان ۲۰ د اکتوبر ته وځنډول.د ټاکنو خپلواک کمیسون ویاند د ځنډونی لامل د ولسی جرګی د ټاکنو دقیق او مختصر پایلو ته چمتووالی ګڼی. کله چی د ټاکنو خپلواک کمیسون لمړنی پایلی اعلان کړی، دټاکنو د قانون مطابق مخکښی ددی چی د ټاکنو خپلواک کمیسون د پایلو پخلاینه وکړی د شکایاتو کمیسون باید د ټولو شکایتونو په اړوند چی د ټاکنو او شمیرنی په اړه شوی وو خپلي پریکړی وکړی.

د ټاکنو خپلواک کمیسون د ټاکنو لمړنی پایلواعلانولو هغه محال وځنډولو چی پدی وروستیو کی یی په ۱۷ د اکتوبر ددی وعده کړی وه، اوس محال یی د پایلو د اعلانیدو نیټه ۲۰ د اکتوبر وټاکله. کمیسون په زیاتو معلوماتو کار کوی، اود کار ډیر بار ددی لامل شو چی د درغلۍ په اړوند شک پیدا کړی او تفتیش او بیا شمیرني ته په رای مرکزونو کښی لار ومومي.



د ټاکنود خپلواک کمیسون او د شکایتو د کمیسون مامورین د ننګرهار په جلال اباد کښی رای شمیرنه تر سره کوی.

National Democratic Institute for International Affairs ♦ 2030 M St. NW, Fifth Floor ♦ Washington, DC 20036-3306
Ph: 202.728.5500 ♦ Fax: 202.728.5520 ♦ www.NDI.org

## د ټاکنو د شکایاتو کمیسون پریکړي(د لمړی پاڼی په دوام)

په یوه بله قضیه کښی، د قندهار د شکایاتو ولایتی دفتر لخوا په یواځنی خپره شوی پریکړي کښی ، شکایت کوونکو داسی ادعاوی کړی چی د ټاکنو دخپلواک کمیسون مامورینو د (۲۸۱۴۲۵۵) شمیری مرکز څخه د رای صندوقونه په معروف ولسوالۍ کښی وړی او بیا یی ډک کړی دی.

د شکایاتو ولایتی دفترد پریکړو په ترڅ کښی داسی وایی چی څیړنکو د ټاکنو دخپلواک کمیسون د مامورینواو ولسوال سره پدی اړوند اړیکه نیولی. خو دوی وایی چی د امنیتی مخکینی تدابیرو ته پام کی نیولو سره دواړو ډلو ته د صندقونو د انتقال اجازه ورکړل شوی وه. د قندهار د شکایاتو ولایتی دفترد صندقونو په څیړلو بریالی نشول. او د صندقونو انتقال یی د امنیتی ستونزو له مخی ټاکنیز تیري ونه باله.

**پریکړي**

دا چی جعلی وټونه څنګه اداره شوی وو، د ټاکنود ولایتی شکایاتو دفتر پریکړي پدی اړوند ثابیتی ندی. د مثال په توګه د پکتیا د شکایاتو ولایتی دفتر په ځینی مرکزونو کی د جعلی وټونو د موندونو له امله ددی مرکزونو درای د باطلولو پریکړه وکړه. خو کله چی په پکتیکا کی جعلی وټونه وموندل شول د بیا شمیرنی حکم پری وشو. ځینی د شکایاتو ولایتی دفترونو د ټول مرکز د رای باطولو پرځای د مشخصو نوماندانو رای چی په درغلۍ کی ښکیل وو بی اعتباره اعلان کړی.

ځینی پریکړی او حتی لمړني معلومات هم ندی په ګوته شوی، لکه د باطل شویو مرکزونو یادوونه. ددریو څخه د یوی خپری شوی پریکړی چی د پکتیکا د شکایاتو ولایتی دفتر لخوا د ښځینه مرکزونو په اړوند شوی وه، د مشخص مرکز یادونه پکی نده شوی.

هغه معلومات چی ایا شواهد قانع کوونکی او روڼ وو او کنه، د پکتیا د شکایاتو د دفتر له خپله ځانه سره درلودل. د مثال په توګه ، د شکایاتوولایتی دفتر وایی چی دوی د یو ویدو فلم چی د دوو شکایتونو په اړه یی مرسته کولای شوه چمتو کړی وو، خو دوی دغه فلم پدی دلیل د منځه یوړو چی دا فلم کوم فیصله کوونکی شاهد د رای صندوقونو په ډکولو کی نشي ثابیتدای.

او ځینی نورو ولایتی دفترونو هم دخپلو څیړنو په ترڅ کی لږ معلومات ورکړی، او ددی پر ځای یی بیا هم ادعاوی د لاس ته راوړونو په څیر ذکر کړی. او ځینو ولایتی دفترونو د پریکړو اساس اسناد ګڼلی خو دا جوته نده چی کوم اسناد. کم تر کمه په ننګرهار ولایت کی ۵ شکایتونه د (۱۰۱۹۴۳۸) شمیری لرونکی مرکز په خلاف شوی چی د نوماند په خوښه صندوقونه ډک شوی. خو ددی څخه هر یو شکایت یی د منځه وړی، پدی دلیل چی دوی ددی شکایت سره کوم سند نلری. او ددی هم هیڅ شواهد نشته چی د شکایاتو ولایتی دفترونو د غوښتنو سره سم د رای صندوقونه پلټلي وای.

## په ختیځو سیمو کښی امنیتی ځواکونه د نه تمه کیدونکي ازمیښت سره مخ شول

چاروکو این ډی آی ته ویلی چی امنیتی ځواکونه د ټاکنوپه ورځ په بلخ ولایت کښی نا امنۍ ته په پوره ډول چمتو نه وو. دولایت د پولیسو دقوماندانۍ مرستیال وایی چی په چاربولک، چمتال او شالګره ولسوالیو کی ددوی د انګیرونو زیات امنیتی پیښی رامنځ ته شوی. یو نړیوال چارواکی چی د امنیتی چارو سره اشنا دی وایی چی امنیتی ځواکونه یی لاندی کړی وو اودوی یی په ځواب کی یی څه نشوای کولي. دا ځکه چی هغوی ددومره لوی او چټک عملیات تمه او وړاندوینه نه درلوده.

د نړیوالوچارواکو د خولی د ټاکنو په ورځ په بلخ ولایت کښی ۱۱ وګړی ټپیان شوی وو، او دا یی هم ویلی چی په ګاونډی ولایت فاریاب کښی ۶ وګړو خپل ژوند دلاسه ورکړی. او دده د وینا مطابق ،سره ددی چی فاریاب د بلخ په پرتله نا امنه ولایت ګڼل کیږی خو امنیتی ځواکونه په ښه توګه چمتو شوی وو.

د سپتمبرپه پیل کښی د بلخ والی محمد عطا ددی خبر ورکړی وو چی په نوموړو دریو ولسوالیو کی په کافی اندازه دپولیس ځواکونه نشته چی د امنیت ساتنه وکړی. هغه این ډی آی ته ووی چی امنیتی پلان یی د پاڼی پر مخ پوره او ښه وو، خو هغه د منابعو د نشتوالی له امله په پوره توګه د نه پلي کیدو وړاندوینه کړی وه.

د امنیت د نشتوالی له امله د ۳۲ څخه ۱۲ پلان شوي مرکزونو په چاربولک، او د ۲۷ څخه ۱۰ پلان شوی مرکزونه په چمتال کښی بند پاتی شوی وو. د پولیسو د قوماندانۍ مرستیال وایی چی په چاربولک کی خلک د امنیت د نشوتوالی له امله ډاریدل، او بیخي ټاکنی ندی تر سره شوی. دی اضعافه کوی چی د ښځینه مرکزونو پلټونکی په هر یو نوموړو ولسوالیو کی نوی، دا ځکه چی محلی خلکو دښځو کار کول د ټاکنو په ورځ خطرناک بللی وو. دافغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنیاد چی د هیواد د مهمو داخلی کتونوکو د ډلو څخه شمیرل کیږی، وایی چی زمونږ کتونکو د امنیتی ستونزو له امله درای شمیرنی بهیرکښی په مرکزونو کی ونډه نده اخیستی.

د نوموړی ولایت د ټاکنو د شکایاتو دفتر وایی چی زیات شمیر شکایتونه یی د چاربولک، چمتال او شالګره ولسوالیو څخه تر لاسه کړی. د کمشنرانو مشر وایی چی زیات شمیر شکایتون لکه د صندوقونو ډکول د پام وړ ګڼل شوی دی ځکه چی د ټاکنو پر پایلو به خپلی اغیزی ولری.

هغه وویل چی دټاکنو د شکایاتو ولایتی دفتر قرنتین شوی صندوقونو لاس ته راوړی تر څو خپلو څیړنو ته دوام ورکړی.

ورته اندیښنی سهیلی ولایت کندوز کښی هم راولاړه شوی دی، کوم چی د ټاکنو په ورځ درغلیو کښی شامل دی.

۶۰ تنو ته نږدی نوماندان په یو ګروپ کی سره راغونډ شوی او د شکایاتو د ولایتی دفتر نه غوښتنه لری چی په دوو بی امنه ولسوالیو چاردره او دشت ارچی کی د درغلیو یو ځل بیا په لوړه کچه څیړنی پیل کړی.

نوموړی نوماندان دعوا کوی : سره ددی چی د وګړو شمیر ډیر کم وو خو تولي د رای پاڼی کارووړل شوی دي. نوموړي ګروپ ددی ګواښ کړی که چیری ددوی د شکایتونو څیړنی په ښه توګه ونشی نو دوی به په لاریونونو لاس پوری کړی.

## مهم خبر: د نیمروز ښځي د ځغاستی به لومړی سر کښی

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د لومړنیو پایلو په بنسټ، په نیمروز ولایت کی دوه ښځینه نوماندی په لوړه کچه تر ټولو د مخه دی . د دی ولایت لپاره د ټاکل شوو دوه چوکیو څخه یوه یی د ښځو لپاره ټاکل شوی ده خو وروستنی معلومات دا ښیی چی دا دواړه چوکی به ښځی وګټی. د ان.ډی.ای د اکتوبر د شپږمی نیټی د معلوماتو په بنسټ، داسی به په افغانستان کی د لومړی ځل لپاره ترسره شوی وی.

اوس مهال میرمن فرشته امینی او میرمن فریده حمیدی د یو بل سره په ډیر نږدی نمبر کی قرار لری، میرمن امینی په ۱۳۰ رایو مخته ده. د دوی نږدی رقیب نوماندان له دوی سره د ۱۰۰۰ رایو توپیر لری.

ملی دیموکراتیک انستیتیوت په افغانستان کی د ۲۰۰۲ کال راهیسی کار کوی او یو غیر دولتی، غیر انتفاعی او غیرسیاسی موسسه ده چی د دیموکراتیکو انستیتیتونو د پیاوړتیا لپاره په نړیواله کچه د وګړو د ګډون له لاری په حکومتونو کی د حساب ورکولو او روڼتیا د راوستلولپاره کار کوی. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو لپاره، ان.ډی.ای د ۱۷۰۰ تنو څخه زیاتو نوماندانو لپاره سمیمنارونه، د سیاسی ډلو او له ۲۴۰ څخه زیاتو ښځو لپاره د زده کړی پروګرامونه په لار واچول او تخنیکی مرستی یی د ازادو او پاکو ټاکنو بنسټ چی په افغانستان کی تر ټولو لوی د ټاکنو د نظارت بنسټ دی وړاندی کړی. ان.ډی.ای اوس مهال د نوماندو د اجنټانو د راپوردهی د ظرفیت په لوړولو بوخت دی تر څو دو وکولای شی د ټاکنو د ورځی راپور په سمه توګه وړاندی کړی.